DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال پنجم شماره سی و پنجم
شماره مسلسل ۶۶۲
یکشنبه ۲۷ جدی ۱۳۸۳هش
۶ ذیحجه ۱۴۲۵ هـ ق
16 January , 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

انتقاد از ساختار دولت جدید

جنرال دوستم باید عضویت کابینه دولت جدید را حاصل کند

انتصابات کابینه از مسوولیت های رئیس جمهور افغانستان است

حامیان عبدالرشید دوستم، قوماندان مربوط قوم ازبک در شمال کشور، از دولت جدید انتقاد کرده و می گویند دولت حامد کرزی تنها در خدمت تامین منافع یک گروه قومی یعنی پشتون هاست

ص ۴

په سلګونو طالبان به خپلې وسلې پر ځمکه کیږدي



د پکتیا والي اسد الله وفا وایي چې قومي مشرانو او مخورو په جنوبي ولایتونو کې له ناراضي طالبانو سره خبرې اترې کړې او ښایي په سلګونو طالبان چې لوړ پوړي کسان هم پکې دي تر اختر وروسته خپلې وسلې په ځمکه کیږدي. وفا وایي دغه پروسه د حامد کرزی له عامې بښنې سره سمه پیل شوې ده او منځګړی توب د قومي مشرانو په غاړه دی. ۴ مخ

د سیمه ییزو قوماندانانو زور زیاتی

د کډوالو د ستنیدو مخه نیولی

د کډوالو په چارو کې دملګرو ملتونو لوړ پوړي چارواکي وایي چې اوس مهال په بهر کې د افغان کډوالو او همدا راز په هیواد کې دننه د بې ځایه شوو کډوالو د ستونزو د ځیرلو په اړه له افغان چارواکو سره په خبرو اترو بوخت دی د یو لنډ سفر په ترڅ کې کندهار ته تللی او د زیړې دشت په کمپ کې یې د شمال ولایتونو کډوالو سره ژمنه کړې. ۴ مخ

د کابل په زندانونو کې ناوړه حالت

د کابل ولایت نوی والي ددغه ښار په زندانونو کې له بندیانو سره د ناوړه چلند نه شکایت کړی دی د آزادی رادیو د یو راپور د مخې سید حسین انوری چې د کابل د زندانونو حالت یې له نږدې څیرلې له عدلیې وزارت څخه یې غوښتې چې په چټکه توګه دغه بندیانو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي ښاغلی انوری وایي چې په زندانونو کې یې داسې پیښې هم لیدلې چې د یوې ورځې جزا لرونکو بندیانو حتی دری میاشتې هم په زندانونو کې تیرې کړې خو د دوسیې، فیصلې، جزا او خوشې کولو په اړه یې هیڅ تصمیم نه دی نیول شوی. دی وایي په ډیرو مواردو کې د بندیانو حقوق له پامه غورځول شوي چې دا ډول چلند په هیڅ وجه د زغملو نه دی. ۴ مخ

در گیری قوماندانان جمعیت در فرخار

گزارش رادیو آزادی از مقامات دولتی در تخار می گویند هر دو قوماندان همراه با ده نفر افراد مسلح شان بازداشت شده و برای دستگیری سایر افراد شامل درین درگیری نیز گفته می شود هر دو قوماندان که مربوط گروه جمعیت می باشند دستگیر شده اند به که تلاش هایی در جریان است.

به گفته مردم محل درگیری های شدید در ولسوالی فرخار ولایت تخار زمانی به وقوع پیوست که یک تعداد از افراد خلع سلاح شده درین ولسوالی از سوی برخی از قوماندان دوباره مسلح گردیده بودند. گفته شده تاکنون در تخار که مرکز اصلی گروه جمعیت اسلامی می باشد همین اکنون سلاح و مهمات بسیار زیادی انبار شده است.

تطبیق ۳۵ پروژه در خوست

وزارت احیاء و انکشاف دهات در ولسوالی های اسماعیل خیل سپیره و موسی خیل ولایت خوست به تطبیق حدود ۳۵ پروژه انکشافی اغاز کرده است. این پروژه ها شامل حفر چاه های عمیق، پاک کاری کاریز ها ، ساختمان جاده ها، اعمار مکاتب و کلینیک ها است که از سوی شوراهای محلی انتخاب شده اند. بیش از پنج میلیون افغانی صرف این پروژه ها می شود. اصیل خان صدیقی رئیس انکشاف دهات ولایت خوست گفته است که بر اساس برنامه همبستگی ملی برای هر قریه حدود بیست هزار دالر امریکایی اختصاص داده شده است و قرار است در قرای دیگر نیز این برنامه تطبیق شود.

د ډیوالو د ډلې له خوا

د ۱۲ کسانو وژنه

د ننګرهار ولایت د خوګیانی ولسوالۍ د ډیوالو د ډلې له خوا د ۱۲ کسانو د وژنې خبر ورکړل شوی دی. د ولسوالۍ د چارواکو په وینا، د ډلې غړو د ۱۲ کسانو د وژنې سربیره، د ۱۰ نورو کسانو ټپي کولو او د ۱۰ موټرونو د سوځولو مسوولیت هم منلی دی. ۴ مخ

افراد ملبس به یونیفورم نظامی

یک تن را بقتل رسانیده و دیگری را مجروح ساختند

در اثر حمله افراد مسلح ناشناس بریک موتر در منطقه جولان ولایت خوست یک تن کشته و یک دیگر زخمی شده است فرد زخمی شده گفته است که موتر انها شب شنبه توسط چند تن که ملبس با لباس نظامی بودند توقف داده شده و از انها سوالاتی در مورد مقصد سفر شان بعمل امد. فرد زخمی توضیح داده است که بعداً این افراد به روی انها اتش کشوده ، راننده را کشته و او را زخمی ساخته اند. مسولین می گویند که تحقیق بالای این موضوع اغاز شده است. این چند مین باری است که افراد مسلح ملبس با یونیفورم نظامی دست به چنین اعمال می زنند اما تاکنون هیچ فردی از ین گروه باز داشت نشده و همچنان اشکار نیست که این افراد مربوط گروه طالبان اند و یا هم دزدان هستند.

په کنړ کې توري

وسلې او چاودنکي مواد تر لاسه شول

په کنړ ولایت کې ایتلافي ځواکونو د وسلو زیرمې موندلې او تر لاسه کړې دي. پدغو وسلو کې ۸۲ ملي متره د هاوان ګولي، پنځلس ۶۰ ډوله MM هاوان، د ولس پیپونه چې باروت پکې وو، څلور سرقابونه، دهاوان ګن شمیر فیوزونه، ۴ مخ

سرمقاله

د لوی او بښونکی خدای په نامه

چرا نسبت به این سنگ آسمانی واکنش جدی ندارند

با نزدیک شدن روزهای عید، یکبار دیگر قیمت مواد مصرفی به شدت رو به افزایش نهاده است. جای بسیار تعجب است که برخی از مقامات ومسوولین ادارات مربوط در چنین موارد که وضعیت اقتصادی و زندگی مردم تا چه حدودی و رشکسته ورقتبار است احساس مسوولیت چندانی نمیکنند.

از تشکیل حکومت جدید در حدود یکماه می گذرد، طی این یکماه بعضی از ادارات قسماً در برخی از موارد، تا حدی در صدد آن بر آمده اند که کار هایی را انجام بدهند.

اما طوری که به نظر میرسد، در مسایل دشوارهمگانی و معضلات فراوانی که مردم با آن مواجه اند، تا کنون کدام تحرک و جنب وجوش قابل توجهی به میان نیامده است. آنچه پیش از همه محسوس است، اینست که بدون داشتن یک ستراتیژی کاری، نمیتوان کاری را از پیش برد.

دولت گذشته در جریان سه سال، نتوانست کار عمده وبزرگی برای بهبود زندگی مردم بفرجام آورد. این امر ناشی از آن بود که دولت موقت و انتقالی هیچگونه ستراتیژی و برنامه یی را طرح نکردند.

اکثریت مردم با وضع اقتصاد نا مساعد و معاش اندک هر روز شاهد بلند رفتن قیم مواد غذایی هستند، میتوان گفت که از عید گذشته تا کنون برخی مواد غذایی مخصوصاً میوه خشک وکیک وکلچه که بیشتر در اعیاد بازار گرم دارد، در حدود سی در صد افزایش یافته است.

با وجود آنکه این امر مهمترین وظیفهء شاروالی است، اما تجربه نشان داده است که شاروالی هیچوقت نخواسته یا نتواسته از عهدهء این مسوولیت پیروز بدر آید، زیرا همواره شاروالی این مسوولیت خویش یعنی کنترول قیم را به عهدهء مردم گذاشته، در حالیکه یک ادارهء عریض وطویل کنترول قیم (تنظیم مارکیتها) که بامدارا بافروشنده ها بر خورد می کند در اختیار دارد.

لذا ایجاب می کند که ادارات مسوول وزارت تجارت، شاروالی ونمایندهء اصناف و پیشه وران، مشترکاً تدابیر جدی را به این منظور اتخاذ وعملی نمایند.

آزادی مطبوعات یا تفتیش عقاید

سمیوال محمد خالد لغمانی | استاد مرکز تربیوی پولیس ملی

همزمان باتحولات سیاسی در کشور باردیگر فریاد آزادی بیان وقلم که رکن عمده واساسی جامعه دموکراسی را تشکیل می دهد به گوشها طنین انداز شد. در این راستا از ابتدای حکومت موقت تاکنون که شاهد مراسم تحلیف رئیس جمهور منتخب بودیم این روند نشیب وفراز های را به عقب گذشتانده ومخصوصاً مقطع زمانی آغاز الی انجام کمپاین انتخاباتی ریاست جمهوری کشور توجه را بیشتر بخود جلب می نماید.

اگر کار وپیکار دست اندر کاران مطبوعات وسایر رسانه ها را در داخل کشور از نظر بگذرانیم در می یابیم که نمایشی از آزادی بیان وقلم را ارایه داشتند که قرار ارزیابی واظهارات مسوولین امور باوجود تجربه کم در این عرصه از درخشش خاصی برخوردار بودند.

اما با اندک توجه می توان دریافت که عده از ژورنالستان مطبوعات ورسانه های خارجی گاه گاهی به همدستی شرکای داخلی شان یعنی بعضی مطبوعات ورسانه ها بنام غیر وابسته خبری با سطحی نگری روشنفکرانه با طرح عقده تاریخی ودامن زدن مسایل مخرش وبراه اندازی وتدویر محافل ومجالس ومصاحبه ها تحت میز مدور یانشست تلویزیونی وغیره با عنوان کردن موضوعات مانند اینکه شما بهتر می‌دانید که از لحاظ حقوقی پیروان مذاهب همه آرزومند آن اند که مثل شهر وندان مساوی الحقوق در زمان مواجه شدن به پرابلم، محاکم در مورد شان در پرتو ارشادات فقه مذاهب شان حل وفصل گردد که اعلامیه جهانی حقوق بشر نیز آنرا مشروع دانسته. در حالیکه برای حل و فصل قضایا در محاکم قانون اساسی کشور صرف به دو مذهب این حق داده شده. حقوق سایرین چرا نادیده گرفته شده؟

چنین طرح که سبب برانگیخته شدن ملتی که بخاطر دفاع از عقیده قربانی های بیشمار را متقبل شده اند میشود و چون هیچ یک کمتر از دیگری در سنگر دفاع مشروع نرزمیده اند. در تلاش میشوند تا این خلاء را به نفع خویش پرنمایند ولی افراد احساساتی راه خشونت را پیش می گیرند که پی آمد آن جز سودی برای دشمنان کشور ندارد.

واز لحاظ زمانی ومکانی هم جاندارد زیرا زمان ومکان خوب آن در موقع ترتیب مسوده قانون اساسی و لویه جرگه قانون اساسی بود.

ویا پرسش سوال اینکه چون پشتون ها همیشه اکثریت هستند آیا درست است که همیشه در رأس قدرت قرار داشته باشند؟ یا اینکه سایر ملیت ها تا کدام زمان از حقوق خویش چشم بپوشند؟ ومطرح کردن ضدها همچو نکات که در آن جانداشت خلاف توقع عامه بود. ملت را به دسته بندی ها تقسیم می نماید وسبب کنار رفتن اقشار مختلفه از پروسه صلح میشود که با منافع علیای کشور که پس از یک جنگ فرسایشی ضرورت به بازسازی وکنار آمدن ها دارد درتضاد بود که نباید با استفادهٔ سوء از این آزادی ها به مقابل اندیشه ها وعقاید پرداخت ویا در امور بسیار شخصی مردم مداخله کرد وآزادی مشروع را سلب کرد وعملاً ماده های 18 و 19 اعلامیه جهانی حقوق بشر وماده های 18، 19 و 20 پیمانnامه بین المللی حقوق سیاسی ومدنی رانادیده گرفت. واین را هم باید بدانیم که در حالت ذیل آزادی بیان را میتوانند قانوناً محدود کرد.

1_ به مفاد امنیت ملی تمامیت ارضی یا امنیت عامه نباشد

2_ برای جلوگیری از بی نظمی یا جنایت

3_ برای حفظ صحت و روحیه عامه

4_ برای حفظ آبرو "نام" یا حقوق دیگران

5_ برای جلوگیری از افشای اسرار محرم دولتی وهم نباید اعمال خویش را چنین توجیه نمایم که گویا این رسالت ماست و مطبوعات بخاطر تنویر واگاه ساختن طبقاتی است که از حقوق خویش بی اطلاع اند. زیرا حل موضوعات، حقوقی، اجتماعی، سیاسی و فرهنگی که در بر گیرنده حل مسئله حقوق اقلیت های ملی ومذهبی و سهم شان در اداره کشور با ایجاد یک کمیسیون کار شناس که مرکب از حقوق دانان ونماینده های اقشار باشد میسر می باشد. رسانه ها ومطبوعات می توانند با کار مثبت وسمت دهنده خویش تشنج زدایی کنند.

ایجاد اداره سالم بر اساس تقویه دستگاه دولت مرکزی

م.ا. صدیق "صدیقی"

به هرحال از انجاییکه آغاز کار دولت منتخب است وامادگی خدمت گذاری صادقانه به ملت متن ومحتوای خط مشی دولت جدید را تشکیل میدهد. لذا قبل از اینکه فرصت موجود منحیث غنیمت طلایی از دست رود وپنج سال آینده بدون نتیجه مطلوب ودست آورد محسوس به سر رسد چنین ابراز نظر مینمایم:

به منظور آغاز مبارزه جدی وبی امان با پدیده منفی فساد اداري و مواد مخدر اوردن اصلاحات سریع در نظام دولتی، واگذاری کار به اهل آن برآورده شدن توقعات برحق ملت از نظام جدید شان و بالاخره به منظور احیای دوباره نظم ودسپلین دولتی که از اواخر دهه دموکراسی به بعد شدیداً آسیب دیده، رئیس جمهور منتخب همزمان با تشکیل کابینه به ایجاد وتأسیس یک تیم مجرب کار شناسان وکاملاً اگاه از خصوصیات کاری ادارت محاکم وسایر نهاد های مربوط در دستگاه دولت بذل مساعی نمایند. تا تحت نظر و هدایت مستقیم ریاست جمهوری منحیث دستیاران کاری از چگونگی اجراات وظایف ومسایل مهم که به ادارات ومراجع ذیربط محول میگردد. با اخذ گزارشات منظم ومستند، با در نظرداشت میعاد وزمان سپری شده، مقدار پیشرفت ها و عملکرد های حاصله را مورد ارزیابی قرار دهد و بعد از تحلیل همه جانبه نتایج بصورت فشرده بارعایت مصروفیت های رئیس جمهور در اوقات معین ضمن گذارش شفاف و مستند به ریاست جمهوری ارائه گردد.

البته در صورت نواقص ویا موجودیت ابهام در گزارش واصله عوامل ودلایل آن بررسی وبه حل آن در اسراع وقت پرداخته شود تا از یکسو سرعت عمل در پروسه اجراات مراجع تأمین و تضمین و از تعلل جلوگیری بعمل آید و از سوی دیگر قدرت مرکزی دولت با نظم ودسپلین معین احیاً و صلاحیت ها وتصامیم عملی رئیس جمهور مطابق اهداف سیستم ریاستی در سرتاسر کشور گسترش وتعمیم یابد.

ضمناً براساس مطالعات وشواهد ثابت شده که در اغلب موارد احساس مسئوولیت قاطعیت اجراات، وسرعت عمل در سطوح بالاتر مخصوصاً شخصیت های شماره اول دولت و کشور ها فوق العاده زیادتر به ملاحظه رسیده وبه هر مقیاس که از قدمه های مافوق به سوی قدمه های بعدی مراجعه ونظراندازی شود به همان اندازه ارزشهای سه گانه فوق گراف نزولی اختیار می نماید.

پس نظر به شرایط موجود کشور وبه منظور تسریع پروسه احیا وبازسازی عرصه های مختلف پیگیری وباز پرس دولت رأس هرم به ملاحظه اهمیت مسایل در مواقع معین ضرورت واقعی بوده و نباید انرا از نظر دور داشت واین هدف زمانی تحقق می یابد که کار شناسان دستگاه دولت هر آن برویت اسناد تحلیل گزارشات واصله معلومات کافی به ریاست جمهوری ارائه نموده بتوانند.

همچنان لازم است تا تیم مورد نظر از لحاظ موقف، بست وصلاحیت در سطوح پایانتر قرار داشته باشد تادر تعیین وتقرر شان مصلحت ها جایگزین مهارت ها نشود و مخصوصاً دقت و توجه از نگاه نبود صلاحیت آن فوق العاده مهم می بوده زیرا وظیفه این نهاد ها همانا تحلیل وارزیابی شفاف گزارشات واصله وارائه نتایج به ریاست جمهوری می باشد و زمینه اظهار نظ رخاص از جانب تیم در مسایل نباید مطرح باشد البته اتخاذ تصامیم وهدایات بعدی در جهت تسریع امور ویا رفع خلاو نواقص فقط به اساس مصوبات هیات کابینه ویابطور مستقیم از جانب رئیس جمهور صادر می شود وبه همین شیوه بطور مسلسل بعد از سپری شدن میعاد تعیین شده بازهم گزارش مطالبه وجریانات مهم تعقیب میگردد.

ادامه دارد

ورځ په ورځ مجرمینو د زیاتوالی یو علت نیول شوو مجرمینو ته د سختو سزاګانو نه ورکول دي

سهراب دیدار

مونږ له یوی خوا شعار ورکوو چې د بیا جوړولو په لوری روان یو او هغه زیانونه چې په تیرو جګړو کې زمونږ هیواد او خلکو ته را اوښتی دی هغه د خپلو خلکو په هر اړخیزه مرسته او باندنیو مرستو سره له منځه وړو هیواد جوړوو خو له بلی خوا دا هم ګورو چې زمونږ خلك اوس د بیکاری او اقتصادی ستونزو سره سره د خپلو مالونو او سر په هکله هم له زیاتو اندیښنو سره مخ دی لاری په امن کې نه دی او په کورونو کې هم ډاډه نه دي. ان په ښارونو کې دغلاوو، وژنو او تښتونو زیاتی پیښی مونږ د رسنیو له لاری اوریدلی او امنیتی چارواکی هم هر وخت د داسی پیښو دکیدلو خبر ورکوی چې دی کارونو له هیوادوالو سره پوره اندیښنی رامنځته کړی دی.

په داړو او غلو کې اوس اوس ډیر له پوځی لباس څخه هم استفاده کوی او زمونږ د ملی پولیسو او نورو پوځیانو نومونه بد وی چې پدی ورځو کې یې ان په هغو حاجیانو هم لاس و نه نیوو چې د خدای کور ته روان وو.

د عامو خلکو انتقادونو ته به څنګه خواب ورکړای شو؟

عام خلك خو په لومړی ګام کې د سیمو له امنیتی چارواکو سرونه ټکوی هغوی دلیل راوړی وایی چې یا خو پخپله امنیتی افراد په بیلابیلو ډولونو د غلاوو په کولو کې مجرم دی او داکار د امنیتی مسوولینو بی پروایی بولی.

او یا خو همدغه امنیتی افراد له غلو او داړو سره په جرمونو کې شریك دی او هغوی ته یې زمینه برابره کړیده.

او که پورتنی دواړه نیمګړتیاوی نه وی او امنیتی مسوولین خانونه پاك بولی نو دا به را سره ومنی چه خپله وظیفه په سمه توګه سرته نه رسوی غله او داړی له وخت څخه په استفاده د خلکو په ژوند او مال لوبی کوي.

خو که چیری رسنیو ته وګورو که له یوی خوا د غلو او داړو پیښی زیاتی او ورځ په ورځ زیاتیږی خو بلی خوا امنیتی مسوولینو ډیر غله وژونکی او تښتوونکی نیولی دی او له نیولو وروسته هم اړوند ځارنوالیو ته سپارل شوی دی.

خوییا هم زمونږ امنیتی مسوولین او یا افراد په بشپړه توګه له مسوولیت څخه نشی خلاصولی کیدای شی په دوی کې به هم ځینی افراد په جرمونو کې لاس ولري او یا خو به د دوی د بی پروایی له امله غلو ته زمینه برابره شوې وی چې د زابل کندهار په لویه لاره غلو په پوځي لباس کې ان چې پوستی جوړی کړی وی او د سپرلیو په چوروlو یې لاس پوری کړی و خو پوښتنه دا کیدای شی چې ولی زمونږ امنیتی مسوولین دومره بی پروا او بی خبره وي؟ چې غله او مخربه عناصر پوستی جوړی کړي ځکه چې د هیواد پدی شرایطو کې د خلکو ټولي هیلی د امنیت په برخه کې همدغو امنیتی مسوولینو او افرادو ته دی او که چیری امنیت نه وی د بیا جوړولو تول کارونه به مو په تپه ودریږي.

خوکه چیری د ورځ په ورځ زیاتیدونکو غلو خوا ته وګورو او د امنیتی خواکونو له خوا د کال پدی تیره شوی موده کې د مجرمینو نیولو ته او قانون ته سپارلو ته وګورو یوه بله پوښتنه له هیواد والو سره پیدا کیږي چې سږ کال خو د امنیتی پولیسو له خوا ډیر تورن او مجرم کسان ونیول شول چې دغه تورن کسان چې جرم پری اثبات کیږي او په خپل جرم قانع کیږي ولی د تلویزیون له لاری هیوادوالو ته نه ښوول کیږي ولی د هغوی له پاره اړوندی دوسیی ژر نه فیصله کیږي ولی د هغوی سزاګانی نه ابلاغیږي. یوازی د نیول کیدو خبرونه خپریږي او بس.

د هغو له دوسیو، او سزاګانو پوره ناخبری موجوده ده او که کوم یو باندی قید خیژولی وی هغه د ګوتو په شمیر دی کیدای شی چې اړوند مسوولین به ددی پوښتنو لپاره قناعت نه ښوونکی ځوابونه ولری خو تر هغی پوری داسې مجرمینو ته درندی سزاګانی ورنه کړل شی او هیواد والو ته ونه ښوول شی له یوی خوا هیوادوالو سره را پیدا شوی پوښتنی حل کولای نشی او له بلی خوا د نورو مجرمینو څخه بدیی اخیستل کیږي او په مقابل کې یې خوشی کیږي ځکه خو دا څنګه مجرمین دی چې له نیولو سره سره ورځ په ورځ زیاتیږي او خلکو ته یې د سزاګانو ښکارل هم نه کیږي.

ددی لپاره چې زمونږ اړوند محکمی څارنوالی د داسی مجرمینو په هکله د رشوت اخیستلو له تورونو خلاص شی لازمه ده چې د مجرمینو دوسیی ژر فیصله شی او سزاګانی اعلان شی ځکه چې د نیولو په پرتله د اعلان شوو شمیره ډیره کمه ده.

که چیری امنیتی مسوولین، څارنوالان او قاضیان په ټینګه او یوه لاس د مجرمینو د نیولو تحقیق او سزا ورکولو په برخه کې د هیواد پالنی په احساس سره ودریږي ویلای شو چې ډیر ژر به د امن او امنیت په برخه کې ډاډ ګامونه پورته شی او په ژوند کولو باندی به د هیوادوالو امیدونه زیات شی.

متصدی صفحه: ناصر "بشر"

راتلونکی دځوانانو نوده!

یو په بل نیوکې او غوښتنې

نن سبا چې کله له خوانانو سره کینو او د انجونټو په هکله تري پوښتنه وکړو خپلې انتقادونه پرې لري او انجوني پر خوانانو باندې نیوکې کوي چې مونږ پدې لیکنه کې د دواړو ښځینه او نارینه ځوانانو سره مرکې کړې او ددوی نیوکې مو خپرې کړې دي.

احمد روکی چې د سروبي په بازار کې له یوه مستري سره شاګرد دی وایي: زه خو خپله ډیر خوشاله یم چې زمونږ په وطن کې نوی حکومت جوړ شو ازادي شوه د ښځو مکتبونه بیرته شروع شول وګوره چې ښځې په حکومت کې کار کوي انجونی مکتب ته روانی دی خو زما غوښتنه لدی خویندو ځخه داده چې شرایط لاجوړ نه دي چې کله له کور نه ښوونځي ته ځي باید سیده د ښوونځیو په لوری روانی وي په ارامه فضا کې له ډیر سینګار او فیشن سره د متعلمې په دوره کې کار وانه اخلي ځکه چې فیشن توجه راجلبوي او خویندی له خپلو ښوونځیو ځخه سیده خپل کورته لاړی شي او له ښځینه ښوونکو ځخه می هم یوه غوښتنه شته چې کله ښوونځیو ته ځي له زیات ډول او سینګار ځخه ځان وساتي ما یوه ورځ ولیدل چې ځینو د سروزرو ګانې هم اچولی وي.

ښه خبره ده چې ښځینه ښوونکي په ساده لباس کې ښوونځیو ته راشي زیاتی ښوونکي د هلکانو په ښوونځیو کې درس ورکوي نو د استاذانو زیات سینګار د زده کوونکو توجه د سینګار خواته جلبوي.

خو پروین جان چې د ننګرهار ولایت د انجونو د یوې لیسې د یوولسم ټولګي زده کړم ډیر بی فکره دي. ډیر ځوانان په کلپونو کې وینو په بلیاردونو کې یې وینو ځینې د نجونو د لیسو او ښوونځیو په مخکې ولاړ وی په انجونو باندې پرزی تیریږي په انجونو پسې روان وي د دوی دی کارونو ته چې وګورم ډیر بی پروا راته را ښکاره شي او ددوی پدې اعمالو خندا راشي خو زه فکر کوم چې کوونکي ده وایي: اوس ددې ضرورت دی چې د هیواد لپاره ځوانان ښه په علم سره وروزل شي مسلکي شي خو زه ګورم چې زمونږ اکثره وروڼه د خپل راتلونکي مسوولیت لپاره هیڅ فکر نه لري چې زه به په راتلونکي کې کور ولرم ژوند به ولرم ضرورتونه به ولرم علم زده کړم چې د ښوونځیو په لوری روانی وي مونږ باید هغوی ته د خویندو په سترګو وګورو ته په خدای باور وکه په ما یې مه کوه چې زه کله یوې جلی ته چې ښوونځي ته روانه وي وګورم خپله خور مې چې په کور کې ده نیغه راته په مخکې ودریږي زه وایم چې زما خور کتابونه په لاس کې اخیستی دي او ښوونځي ته اصلاً دداسې خوانانو کورنۍ باید دوی وڅاري او نصیحت ورته وکړي چې لدې بیهوده کارونو ځخه ځان وساتي.

د کابل په ده افغانانو کې مې له یو ځوان ځخه چې اصلاً خپل ځان د کندز د شیرخان لیسې د ۱۲ ټولګي متعلم ښځ پوښتنه وکړه وایي: وروره ننسبا چې کومی روانه ده کومې ښځې چې په بازار کې ګرزي نو خبره می دا کوله چې که چیرې زمونږ دا خویندې له چا ځخه په تکلیف کیږي باید حتماً یې امنیتي مسوولینو ته چې تل یې په خدمت کې وښئ چې سزا وګوري.

خو دغه راز جمیله وایي: اصلاً زمونږ په هیواد کې تعلیمي سطحه کښته تللی د وروسته پاتې ټولنی داسې ځانګړتیاوې وی چې کله ښځې په دفترونو کې کار کوي مخالفتونه کوي. یا ځینې خلک او هلکان انجونو او ښځو ته ازار ورکوي او یا ورپسې خبرې کوي تورونه لګوي دا هر څه د بی تعلیمی نتیجه ده که چیرې تعلیم عام شي دا ټولی نیمګړتیاوې له مینځه ځي. خو زما غوښتنه له هغو کورنیو ځخه چې خپلې لونې لا اوس ښوونځیو ته نه پریږدي داده چې باید اجازه ورکړي.

انجونی د ښوونځیو په لوری روانی وي مونږ باید هغوی ته د خویندو په سترګو وګورو ته په خدای باور وکه په ما یې مه کوه چې زه کله یوې جلی ته چې ښوونځي ته روانه وي وګورم خپله خور مې چې په کور کې ده نیغه راته په مخکې ودریږي زه وایم چې زما خور کتابونه په لاس کې اخیستی دي او ښوونځي ته

د ځوانانو د وزارت په وړاندې درنې دندې

زمونږ په هیواد کې تر اوسه پورې د ځوانانو په نامه یو خپلواک وزارت نه و خو دادی په نوی کابینه کې د ځوانانو لپاره د یو نوي وزارت د جوړولو پروګرام عملي شو. نوی وزیره وټاکل شوه او ددې هیله کیږي چې نوی وزیره د ځوانانو د اوسنی ژوندانه په هکله او د هغوی د راتلونکي لپاره دقیق او علماً سنجول شوی پلانونه د ماهرینو په هر اړخیزه مرسته سره عملي کړي.

د ښوونی او روزنې، لوړو زده کړو وزارتونه هم د ځوانانو د روزلو او دهیواد راتلونکي لپاره د کادرونو د روزلو په خاطر ځانګړی دندی پرمخ وړي. خو داسې ځوانان هم لرو چې له ښوونځیو او لوړو زده کړو ځخه پاتی کیږي د ډیرو کمو لپاره د حرفوي زده کړو زمینه برابره شوی ده اکثره ځوانان مو بی تعلیمه او بی کسبه ګرزي او کله چې دداسې ځوانانو لپاره د ژوند ساحه تنګه شي بهر هیوادونو ته د کار او مزدورۍ لپاره روان وي چې هلته استثماریږي د ځوانانو لپاره نوی وزارت په هیواد کې د ټولو ځوانانو د یو والي منسجم کولو، د هغوی د روزلو او د ځوانانو لپاره د کار د زمینې د برابرولو په برخه کې ستر مسوولیت په غاړه لري او په دې برخه کې باید ستر او کاري علمي پروګرامونه رامنځته او عملي یې کړي.

تر ټولو ستره دنده داده چې دغه وزارت باید ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو وزارت سره په تفاهم په ښوونځیو او پوهنځیو کې د زده کوونکو او محصلینو دیو موټی والی په خاطر اتحادیې پیاوړي کړي او په ځانګړي توګه د ځوانانو تربیوي خوا د لاښه والي په برخه کې اجراات سرته ورسوي چې په ښوونځیو کې زده کوونکي یوازي او یوازې د علم او پوهی د لاسته راوړلو لپاره خپله پاملرنه وګرزوي او اوسنی بی بندو باري چې د ځینو له خوا رامنځته کیږي له منځه یوسي.

په دویم ګام کې باید هغو ځوانانو د روزنې لپاره چې د اقتصادي ستونزو له امله وزګار ګرزي دحرفوي زده کړو په برخه کې په وړیا توګه زمینه برابره کړي د ځوانانو د لست کولو او په بازار کې یې د حرفوي استاذانو سره د شاګرد کولو له لاړې زمینه برابره شي چې وکړای شي له وخت ځخه په استفاده مسلکي شي چې په راتلونکي کې د ځان، کورنۍ او هیواد په ګټه تمام شي وګورو چې د ځوانانو نوی وزارت څه ډول پروګرامونه په پام کې نیسي او وګورو چې څه ډول د ځوانانو د روزلو او یو موټی کولو او د هیواد پالنی په احساس سره د روزلو په برخه کې بری تر لاسه کوي او څومره د ځوانانو له حقوقو ځخه دفاع کولای شي.

دکار په مقابل کې دحقوقو تثبیت به څنګه رامنځته شي

زمونږ دټولنې اوسنی حرکت په داسې لوړې سیده شوی چې د پانګوالی په یوځه نسبی ځانګړتیاوو دبرابرید و نښې نښانې په کې ښکاري اودوخت په تیریدو سره به ددولتی سکتورونو کمښتونه راځي او که چیرې امن او امنیت په سمه توګه رامنځته شي ویلای شو چې دخصوصی سکتورونو شته والی به زیات شي.

خو که چیرې دولت د نوری پرمختللی نړۍ په څیر دخصوصی سکتورونو په کارونو او فعالیتونو باندې څارنه او کنټرول ونه لري خامخابه دخصوصی سکتورونو مالکان زمونږ دخلکو له وزګارتیا او مجبوری ځخه ناوړه استفاده وکړي او ددوی له فزیکی توانایی ځخه به دخان په ګټه کار واخلي او داستثمار قوی بڼه به را خپله کړي همدا اوس په هیواد کې لیدل کیږي چې دولت په خپل چوکاټ کې دخپلو ټولو تعلیم یافته هیوادوالو لپاره نه دکار زمینه برابرولی شي اونه ورته داړتیا په اندازه معاش ورکولای شي.

هغه دولتی ملکی او پوځی کارکوونکی چې په دې کمو معاشونو اوامکاناتو دبازار ددې بې پوښتنې لوړو نرخونو سره ځانونه عیارولای نشي درشوت اوبډو له لارې خپله اړتیا پوره کوی خو هغه چې په شخصی سکتورونو کې چې په پراخه اندازه موجود هم نه دی کار کوی هغوی هم دکار په مقابل کې خپل پوره حقوق نشی ترلاسه کولای څه وکړي؟

او هغه چې وزګار دي خه وکړي؟

ځرګنده ده چې وزګار هیوادوال او ځوانان به دغلاوو دکولو لپاره تیاری نیسی که څه هم امنیتی ځواکونه به وی خو دا کار به روان هم وي.

مورږ په دې کرښو سره دغلو او غلاوو لپاره برائت نه ورکوو درشوت خورو او اختلاس لپاره برائت نه ورکوو خو دا وایو چې اقتصادي مجبوریتونه کله کله انسان ته ناروا لارې ښئ او هغه کسان چې دښو او بدو ، روا اوناروا ترمنځ توپیر نشی کولای ډیر امکان لري چې دخیانت خواته مخه کړي.

نو په دې حالتو کې لازمه ده چې خپله دولت دخلکو دنظم او هغوی ته دکار دپیدا کولو او دکار دپیدا کولو په برخه کې دحقوقو دځارنې کنترول او ورکولو په برخه کې جدی اوسي او ځانګړې پروګرامونه تراجراء لاندې ونیسي په بهرنیو هیوادونو کې که څه هم دولت نشی کولای ټول اوسیدونکی په دولتی چوکاټ ونیسي خو هلته په خصوصی سکتورونو باندې کنترول او ځارنه ده ځانګړې قوانین یې ورته وضع کړي دیو دولتی کارکوونکي او دخصوصی سکتور دکارکوونکی دحقوقو پوره رعایت شوی دی.

نو زمونږ داوسنی حالت په پام کې نیولو سره چې بیکاری او ج ته رسیدونکی ده ددولت وظیفه داده چې دکار کولو زمینه برابره کړي یا په دولتی چوکاټ کې اویا په خصوصی کې او ورسره دکاردحقوقو په برخه کې ځانګړې پاملرنه وکړي او دویمه دا چې پخپله ځوانان هم خپله دمسلکی کارونو دزده کړې په برخه کې پوره مهارت ترلاسه کړي څو دخپلې پوهې او مسلکی لوړتیا په درلودلو سره په راتلونکی کې دځان او کورنۍ لپاره دښه ژوند په خاطر په خپل همت اوپوهه ځانته دکار زمینه برابره کړي همدا اوس اکثره ځوانان دخپل راتلونکي په هکله درست فکر نشی کولای وزګار ګرځي اولا اوس په خپلو ستونزو ځکه نشی پوهیدای چې مسوولیت یې دکور دنورو غړو یا مشر په غاړه وي خو هغه وخت کې متوجې کیدای شي چې پخپله دخپلې کورنۍ مسوولیت په غاړه ولري او د کار کولو لپاره ښه امکانات هم وجود ونه لري.

اسرائیل کلیه تماس ها با فلسطینی ها را قطع کرد

آریل شارون صدراعظم اسرائیل، دستور داده است کلیه تماس ها با رهبران فلسطینی تا زمانی که محمود عباس، رهبر جدید آنها علیه پیکارجویان اقدام نکرده است قطع شود.این موضوع پس از آن اعلام شد که پیکارجویان پنجشنبه شب شش اسرائیلی را در یکی از گذرگاه های نوار غزه به قتل رساندند.این حمله ضربه ای به محمود عباس است که روز یکشنبه به عنوان رئیس تشکیلات خودگردان فلسطین انتخاب شد. انتخاب او امیدهای تازه ای را نسبت به زنده شدن روند صلح به وجود آورده بود.آقای شارون پس از پیروزی آقای عباس تیلفوني به وی تبریک گفت و اظهار امیدواری کرد "به زودی" با او ملاقات کند.اما روز جمعه هرگونه امیدی برای انجام ملاقاتی عاجل میان آن دو نقش بر آب شد.اساف شاریو، سخنگوی آقای شارون گفت: "اسرائیل امروز به رهبران جهان اطلاع داد تا زمانی که محمود عباس تلاشی واقعی برای متوقف کردن اعمال تروریستی صورت نداده است، هیچ گونه ملاقاتی با او انجام نخواهد شد."صائب عریقات، عضو کابینه فلسطینی، این خبر را تایید کرد.وی گفت: "ما از اسرئیلی ها می خواهیم مذاکرات برای یک فرآیند صلح ملموس را از سر گیرند زیرا این تنها راه شکستن دور باطل خشونت است.محمود عباس پیشتر از حمله پیکارجویان فلسطینی به یک پوست تلاشي مرزی اسرائیل در نوار غزه، انتقاد کرده بود.آقای عباس گفت این حمله و همچنین عملیات نظامی اسرائیل در روزهای اخیر "به نفع صلح نیست."در حمله پیکارجویان فلسطینی به گذرگاه اصلی میان اسرائیل و نوار غزه، شش اسرائیلی کشته شدند. سه فلسطینی عامل این حمله نیز به دست نیروهای امنیتی اسرائیل کشته شدند.سه گروه پیکارجوی فلسطینی به طور مشترک مسوولیت انجام حمله پنجشنبه شب را به عهده گرفته اند.گروه شهدای الاقصی، که به جناح فتح به رهبری آقای عباس تعلق دارد، گروه حماس و گروه کمیته مقاومت مردمی، مسوولیت این حمله را به عهده گرفته اند.در پی آن حمله اسرائیل تمامی گذرگاه های خود به نوار غزه را مسدود کرد.



'شیرین عبادی محکمه انقلاب را به رسمیت نمی شناسد'

محمد دادخواه وکیل و همکار نزدیک شیرین عبادی گفته است که وی تصمیم خواهد گرفت آیا باید از حکم احضاریه محکمه اطاعت کند یا خیر.آقای دادخواه گفت خانم عبادی، برنده جایزه صلح نوبل، دادگاه انقلاب (محمکه انقلاب) را به رسمیت نمی شناسد و معتقد است که صدور احضاریه برای پاسخ گفتن به پرسش های نامعلوم، با قوانین ایران همخوانی ندارد.براساس حکم احضاریه، خانم عبادی باید در محکمه حاضر شود یا در غیر این صورت محکمه ممکن است حکم بازداشت او را صادر کند.وزارت خارجه آمریکا روز جمعه ضمن اظهار نگرانی عمیق نسبت به آنچه به وخامت گراییدن وضعیت حقوق بشر در ایران خواند، گفت ماجرای خانم عبادی را از نزدیک دنبال می کند.به گزارش خبرگزاری اسوشیتدپرس آقای دادخواه گفت او و خانم عبادی، که مرکز حفاظت از حقوق بشر را در ایران بنیان گذاشته اند، دادگاه های انقلاب را به رسمیت نمی شناسند زیرا "در قانون اساسی به آنها اشاره ای نشده است."وی گفت خانم عبادی همچنین نگران است که احضاریه به این مساله که در چه زمینه ای باید شهادت دهد اشاره نمی کند و به علاوه نمی گوید اتهامات مطرح در این محاکمه چیست و متهم کیست.آقای دادخواه تاکید کرد: "خانم عبادی به عنوان شاهد فراخوانده شده است نه به عنوان متهم."خانم عبادی در گذشته و از زمان دریافت جایزه صلح نوبل، چندین بار با مقام های ایرانی درگیر شده است.وی ماه گذشته خواستار تغییر قانون مجازات اسلامی برای بهبود حقوق بشر شده بود.خانم عبادی نخستین قاضی زن در ایران بود اما پس از انقلاب مجبور به کناره گیری از این مقام شد.وی پس از انقلاب به تلاش برای پیشبرد حقوق بشر در ایران، به خصوص حقوق زنان و کودکان ادامه داد و در سال ۲۰۰۳ به خاطر این فعالیت ها موفق به دریافت جایزه صلح نوبل شد. از سوی دیگر به گزارش خبرگزاری رویتر موسسه انتشاراتی "رندوم هاس" (Random House) اعلام کرده است که کتاب خاطرات خانم عبادی پس از تغییری در مقررات آمریکا پیرامون انتشار آثار کشورهای تحت تحریم آمریکا، در این کشور منتشر خواهد شد.این ناشر آمریکایی گفت کتاب خانم عبادی "تصویری زنده ای از مبارزات زنی که روحیه و نشاط خود را علیرغم ناآرامی سیاسی، سرکوب و چالش هایی که زنان سراسر جهان با آنها روبرو هستند حفظ کرده است ارائه می کند."ماه گذشته دولت آمریکا ممنوعیت جنجال برانگیز انتشار آثار نویسندگان ایرانی، سودانی و کیوبایی را که در دوره ریاست جمهوری جورج بوش وضع شده بود لغو کرد تا به ناراضیان و سایر کسانی که به دولت های این کشورها وابستگی ندارند اجازه داده شود آثار خود را منتشر کنند.با این حال ممنوعیت انتشار آثار افراد وابسته به دولت های این کشورها در آمریکا هنوز به قوت خود باقی است.این تغییر پس از آن صورت گرفت که خانم عبادی به خاطر ممنوعیت کتاب خاطراتش در آمریکا، علیه دولت این کشور به محکمه ها شکایت کرد.موسسه انتشاراتی "رندوم هاس" گفت که این کتاب دوران کودکی و رشد خانم عبادی پیش از انقلاب ایران، تحصیلات و سال های محصلي او در پوهنتون تهران، ازدواج، مذهب و زندگی او به عنوان یک مادر و هوادار حقوق بشر را برخواهد شمرد.یک سخنگوی این موسسه گفت تاریخ چاپ این کتاب هنوز مشخص نشده است.

محکومیت 'سردسته' متهمان بدرفتاری با زندانیان عراقی

یک سرباز آمریکایی که متهم به سرکردگی کسانی بود که به آزار زندانیان در ابوغریب می پرداختند، در محکمه یي در آمریکا گناهکار شناخته شده است. زندان ابوغریب در بغداد، پایتخت عراق، در مرکز رسوایی مربوط به آزار زندانیان عراقی توسط نیروهای آمریکایی قرار داشت. چارلز گرینر، ۳۶ ساله، پس از چهار روز محاکمه در تگزاس که در جریان آن گفته شد وی برای خوشگذرانی، زندانیان را مورد آزار و اذیت قرار می داد، محکوم شده است.وی در ده مورد اتهام از جمله توطئه، سستی در انجام وظیفه، سوءرفتار، ضرب و شتم و اعمال شنیع گناهکار شناخته شد.وی در جریان محاکمه در مقابل این اتهامات اعلام بی گناهی و استدلال کرد که در زندان تنها از دستورات مقامات مافوق پیروی می کرده است.وی اکنون با حداکثر ۱۵ سال مجازات حبس روبروست.هیات منصفه نظامی، متشکل از ۱۰ نفر، که پس از پنج ساعت تامل پشت درهای بسته حکم خود را اعلام می کرد، استدلال های وکیل مدافع را مبني بر این که آقای گرینر تنها از دستورات اطاعت می کرده است رد کرد.گریس گریو خارنوال نظامی، پیش از آنکه هیات منصفه به بحث بنشیند، تعدادی عکس و نوار ویدیویی که در سال ۲۰۰۳ در داخل زندان گرفته شده بود را به محکمه نشان داد.انتشار ده ها عکس در سال ۲۰۰۴ که سربازان آمریکا را در حال آزار و اذیت زندانیان در ابوغریب نشان می داد، باعث خشم جهانی و محکومیت رفتار آمریکا در عراق شد.انتشار آن عکس ها باعث طرح اتهاماتی مبني بر بدرفتاری نیروهای آمریکایی با زندانیان در شماری از زندان های آمریکا در عراق، افغانستان و خلیج گوانتانامو در کیوبا شد.ادعا شد که چهره های نظامی و سیاسی عالیرتبه آمریکا، از جمله وزیر دفاع آن کشور، دونالد رامسفلد، از این بدرفتاری ها خبر داشته اند.اما یک کمیسیون مستقل در ماه اگست ۲۰۰۴ نتیجه گرفت که گناه بدرفتاری ها تقریبا به طور کامل به گردن سربازانی که زندان را اداره می کردند می افتد، اما آقای رامسفلد و همکارانش را به خاطر آنکه شرایط لازم را برای جلوگیری از سوءرفتارها فراهم نکرده بودند مقصر شناخت چارلز گرینر از جمله متهم بود سربازان را عریان کرده و آنها را وادار کرده است به صورت یک هرم روی هم دراز بکشند و بعدا به آنها دستور داده است درحالی که سایر سربازان از آنها عکس می گرفتند خودارضایی کنند.

په کنړ کې...

خوارلس صندوقه مرمی، یوه روسیې مخابره او نور اړوند وسایل موندل شوي دي. دا خبره ایتلافي خواکونو په یوه بریښنا لیک کې خبري رسنیو ته کړیده. تر دې وړاندې هم پدغه ولایت کې ورته زیرمې نیول شوي دي.

د کابل په زندانونو...

اوس د کابل والي د عدلیې وزارت له استازو او دکابل ولایت د جنایي امنیت له چارواکو سره یوه ګډه غونډه را بللې او د عدلیې وزارت نه یې غوښتنه کړې چې د بندیانو په دوسیو غور وشي او نورې لازمې اسانتیاوې رامنځ ته شي

د سیمه ییزو قوماندانانو...

چې ژر تر ژره به یې خپلو سیمو کې د ستنیدو په لاره کې پراته خنډونه له منځه یوسي. لوبرز ویلي چې په شمال ولایتونو کې یې له چارواکو سره کتلي او هغوی یې هڅولي چې د کډوالو د راستنولو لپاره زمینه برابره کړي. خو د بې ځایه شوو کورنیو استازو زوری اندیښنې خرګندې کړې او ویې ویل چې ددوی د ستنیدو په لاره کې بې حده ستونزې لا پرځای پاتې دي او تر ټولو ستره او جدي ستونزه د سیمه ییزو قوماندانانو زور زیاتی دی هغوی چې ددغو کډوالو، کورونو، ملکیتونه او شتمنی غصب کړې او هغوی یې له خپلو پلرنیو ټاټوبونه تیښتی ته اړ کړي دي. دغو کډوالو په وار وار د جنګسالارانو او سیمه ییزو قوماندانانو له زور زیاتی نه په شمالي ولایتونو کې شکایت کړی او اوس په ډیر بدحالت کې شپې سبا کوي. دغو استازو په خپلو خبرو کې د بې وسلې کولو یا DDR په پروګرام هم شک خرګند کړی داسې چې په شمالي ولایتونو کې قوماندانانو یوازې د ګوتو په شمار زړې وسلې ورسپارلي او ډیرې نورې وسلې یې له ځان سره خوندي کړي دي.

په سلګونو طالبان...

اسد الله وفا په یوه ځانګړې مرکه کې پدې اړه پوره ډاډ ورکړی خو خرګنده یې نکړه چې په دقیقه توګه به دغه ناراضی جنګیالي طالبان څه وخت له دولت سره خپل مخالفت ته د پای ټکی کیږدي.د پکتیا والی وایي په تسلیمیدونکو طالبانو کې د هغوی لوړ پوړي مشران هم شته خو د هغوی د نومونو له خرګندولو ځخه یې ډاډه وکړه.

هغه طالبان چې اوس له افغان دولت سره خپل ښکاره مخالفت ژوندی ساتلی زیاتره په وسلو سمبال دی په جنوبي اوجنوب لویدیځو سیمو کې په دولتي چارواکو او بهرنیو ځواکونو وخت نا وخت چریکي بریدونه کوي خو د پتیدو ځای یې د پاکستان سرحدي سیمې او په ځانګړي توګه کوټه او پیښور دی. چې ښایي دغه لویه جوړه تسلمیدونکي طالبان هم پدغو سیمو کې تر دې مهاله پټ وي.

انتقاد از ساختار...

اعضای حزب جنبش ملی اسلامی، وابسته به عبدالرشید دوستم، در یک گردهمایی در ولایت جوزجان، به زلمی خلیلزاد، سفیر آمریکا در افغانستان گفتند که اقلیت ازبک در دولت مرکزی قدرتی ندارند.آنها گفتند که جنرال دوستم باید عضویت کابینه دولت جدید را حاصل کند.اما آقای خلیلزاد در پاسخ گفت انتصابات کابینه از مسوولیت های رئیس جمهور افغانستان است.وی همچنین گفت که آمریکا یک نیروگاه هیدروالکتریکی در جوزجان می سازد که یک صد میلیون دالر مصرف خواهد داشت.عبدالرشید دوستم که در جنگ های بسیاری شرکت داشته است، پس از روی کار آمدن دولت موقت افغانستان در اواخر سال ۲۰۰۱ معاون وزیر دفاع شد.وی سپس در سال ۲۰۰۲ به عنوان نماینده خاص آقای حامد کرزی، رییس اداره موقت در مناطق شمال منصوب شد.جنبش ملی اسلامی، تحت هدایت جنرال دوستم، یک جناح شبه نظامی عمدتا ازبک است.نیروهای جنرال دوستم از زمان سقوط طالبان با نیروهای جنرال عطا محمد از قوماندانان قوم تاجک درگیر نبردهای خونین برای کسب برتری منطقه ای بوده اند.عبدالرشید دوستم که از نامزدهای انتخابات ریاست جمهوری بود، همانطور که انتظار می رفت دستاورد خوبی در میان ازبک ها داشت اما در سایر مناطق آرای چندانی به دست نیاورد.

ارادہ
روزنامه آزاد و ملی نشریه مرکز نشرات افغان
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوي نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین صدیق الله "صدق" واحمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشرات قیمت یک شماره ۳ افغانی
زیر نظرهیأت تحریر انتشار مییابد
موسس و صاحب امتیاز: سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب "دیدار"
ارادہ درویرایش وپیرایش مطالب دست بازدارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجي میر احمد)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
eradadaily@ hotmail.com Deputy: Suhrab "Didar"